مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۲/۱۱

# له نفرت ډک انسانان

هر خوا د میني قاتلان دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

د میني بوی یې په فطرت کې نشته
نور د ایمان یې په صورت کې نشته
اد پردي پال مو رهبران دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

څلور لسیزې شوې، لمبو وخوړم
د پردي جنګ، پردي وسلو وخوړم
څومره بې حسه مشران دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

د غلامۍ ځنځیر یې ځان نه تاؤ کړ
سنګر د جنګ یې زما ارمان نه تاؤ کړ
هر خوا چې ګورم جاهلان دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

په تور تمونو کې خوشاله وي دوی
ځکه همیش زبون بدحاله وي دوی
ښکاري انسان خو حیوانان دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

د عاطفې دیوال په جنګ ړنګوي
ښکلی تصویر مې په سور رنګ ړنګوي
زما د غوښې قصابان دي خدایه
له نفرت ډک ډېر انسانان دي خدایه

مصطفی پسرلی
08/12/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ